دهمدغه جنګ په هکله قرآن عظیم الشان فرمایي: " یاایهاالذین امنوا اذکروانعمة الله علیکم اذجائتکم جنودفأرسلنا علیهم ریحا وجنودا لم تروها وکان الله بماتعملون بصیرا " ای دایمان خاوندانو!پرځان دالله (ج) هغه پیروزوینه راپه یادکړي چې تاسو لره پوځونه راغلل . " فأرسلناعلیهم ریحا" نوموږپرهغوي باندې بادراولیږلو"وجنودا لم تروها " اوهغه لښکرې چې تاسو نه لیدلې . دمحاصرې په هغې آخري شپه چې سروراوتندبادپه لګیدو شو. دومره چې دهغوي خیمې یې وشلولې اوآسونو خپل پړي وشلول اولښکرتارومار شو دفوځ قوماندان اعلان وکړ، چې بس هرڅوك دې خپل لوري ته حرکت وکړي اومحاصره ماته شوه . الله جل وعلي شانه همدې ته اشاره کوي اوفرمایي : په تاسوباندې ددښمن پوځونه راغلل . دعربوټولو قومونو یوبل ته لاس ورکړي سترپوځ یې برابرکړي، پرمدینې منورې باندې یې دحملې لپاره یې پوره تیاري نیولې،دداخل نه هم دښمن له هغوي سره لاس یو کړي، هغه هم بنه ډیروسائل ذخیره کړي . اودحملې له پاره تیاردي ، اومسلمانان هم دښمن سره دمخامخ جګړې له پاره توان په ځان کې نه ګوري، له همدې امله مجبوریږي چې دمدینې هغو خواووته خندق وکیني چې له کوم لوري نه په مدینې منورې باندې دحملې امکان شته . وګوري هغوي چې صبروکړ ، الله (ج) یې ځان ته کافي وګڼلو. دښمن ته تسلیم نه شول اودخپل برې په نسبت هغوي ! شکمن نه شول . دجنګ نه پرته الله جل وعلي شانه هغوي ته فتحه ورکړه " فأرسلناعلیهم ریحا" په دوی باندې مو بادراولیږلو،دځمکې اوآسمانونو هرشي دخداي لښکري دي " ولله جنودالسموات والارض " دآسمانونو اودځمکې لښکري دالله (ج) دي . په دځمکې اوآسمانونو کې چې څه ګوري دالله مطیع او فرمان بردار سپاهیان دي اودهغه دجند اودلښکرحیثیت لري . ګوري ! الله جل وعلي شانه پرهغوي باد راولیږلو لکه ګڼ شمیر قومونه یې چې دباد اوزلزلې په نتیجه کې هلاك کړي ، ددې دښمن پرخلاف هم الله بادماموركړ اولښکري یې راولیږلې چې تاسي نه لیدلې . هغه غیبي لښکري چې الله ستاسو مرستې ته راولیږلې اودهغه په نتیجه کې یې دډښمن په زړونو کې ویره، رعب اوخوف راپیداکړ. دخپل آینده په نسبت یاس اوناامیدي یې په هغوکې راپیداکړه . هومره ویره اوخوف چې دخپلې کامیابي په نسبت نورهغوي ناامیده شول اومحاصره یې ماته کړه ، ناْمراد اوزیانمن بیرته وګرځیدل " وجنودا لم تروهاوکان الله بماتعملون بصیرا " اوالله جل وعلي شانه په هغه څه چې تاسوکول بصیردي . ستاسي دکړووړوپه نسبت هغه علم لري اوچې تاسو اوستاسي دښمنانو څه کړل اودستاسي چې کوم حالت ؤ، الله دېټولو په نسبت علم لري ، هغه بصیردي . مطمئن و اوسیږي چې دستاسو معامله له بصیرخداي سره ده . چې دستاسي په حالت ډیرښه پوهیږي . که ستاسو پرالله اعتمادؤاوهغه موځان ته کافي ګڼلو نوهغه به تاسي یواځې نه پریږدي هغه به ستاسو مرسته کوي. ستاسو معامله له هغه بصیر، علیم اوخبیر خداي سره ده " وکان الله بماتعملون بصیرا " " اذجاءوکم من فوقکم ومن اسفل منکم واذزاغت الابصاروبلغت القلوب الحناجر وتظنون بالله الظنونا" دوي له براوکوزنه راغلل ستاسو له برې خواته هم اوله کوزې خوانه هم پرتاسو باندې دحملې لپاره راغلل . دمدینې منورې دشرق اوغرب له لوري نه یادټولو خواوونه په مدینې منورې باندې دحملې لپاره راغلل . هغه وخت چې سترګې خړې شوې دخوف اوویرې په وجه دځینو اودډیرو سترګې خړې شوې " وبلغت القلوب الحناجر " اوزړونه ستوني ته ورسیدل . دخوف اوډویرې په وجه دډېرو حالت داسې ؤ لکه زړونه چې له سینې نه بیلیږي . ستوني ته رارسیدلي وي ، ځېنو خپلې امیدواري له لاسه ورکړي . په څېرو اوسیما کې یې دخوف اوډویرې آثارڅرګند شول اوناامیدي اودیاس آثاریې له سترګونه له ورایه بریښې . دځینو سترګې خړې شوې اوزړونه یې هم حنجروته راورسیدل . دخوف اوډویرې داحالت و" وتظنون بالله الظنونا" اوداالله په نسبت مورنګ رنګ ګومانونه کول . ځینوویل چې دالله اودرسول وعدې هسې دوکه اوفریب ؤ دهغوي په مقابل کې چې چاپه واقعي معنی په الله ایمان درلود ویل یې چې الله له موږسره په حقه اوریښتیني وعده کړي . همدا دخداي وعده ده اوالله اودهغه پیامبر ریښتیاوایي . دهغوي وعده حق ده ځینو ویل چې بیرته وګرځې چې نورنوستاسو لپاره داوسیدلومقام نشته . سنګرونه پریږدي اودښمن ته تسلیم شي اوداسلام نه لاس واخلي "وتظنون بالله الظنونا " اوداالله په نسبت مورنګ رنګ ګومانونه کول . په همدې وخت کې مومنان ابتلا کړای شول .

" هنالك ابتلي المومنون وزلزلو زلزالا شدیدا " مومنان وآزمویلی شول اوپه شدید لرزیدلو سره ولرزولي شول ، دا حالت خداي جل وعلي شانه ددې لپاره راوستي چې دایمان خاوندان اودایمان مدعیان وآزمیي .

ددغې شدیدې محاصرې اودلوي لښکرپه وجه الله دایمان خاوندان وآزمویل اوهغوي یې په شدیدلرزیدلو باندې ولرزول . همداسې حالت یې راپیداکړچې فقط دقوي ایمان خاوندان په خپل ځای استوار اوثابت قدمه پاتې شي .

" واذیقول المنافقون والذین فی قلوبهم مرض ماوعدناالله ورسوله الاغرورا "

هغه وخت چې منافقینو اوهغوي چې په زړونو کې یې بیماري وه ویل یې الله اودهغه پیامبر له موږسره وعده نه وه کړي مګرومکراو ددوکې داهسې دمکراوفریب دوکې وي ، دې کې هیڅ حقیقت نشته . څنګه موږسره خودقیصراودکسرا دقصرونو وعدې کیږي خواوس موږدمدینې ددې واړه ښارنه هم په دفاع قادرنه یو ، دخپلوخندقونونه هم نشووتلي ، دخپلوماشومانوله حالت نه هم نه خبرواودقیصراودکسرا قصرونه چیرته دي ! منافقینو اودبیمارو زړونوخاوندانوهمدغه ویل چې الله اودهغه پیامبر چې له موږسره کومې وعدې کړې هغه هسې دفریب اودغرور وعدې دي .

"واذقالت طائفة منهم یااهل یثرب لامقام لکم فارجعواویستئذن فریق منهم النبي یقولون ان بیوتناعورة وماهي بعورة ان یریدون الا فرارا "

اوهغه وخت چې منافقینواودبیمارزړونوخاوندانوته بوي ولي ویل : ای دیثرب (مدینې) اوسیدونکو ! "لامقام لکم فارجعوا" تاسو له پاره نور داوسیدلومقام اوځاي ندې پاتې . بیرته وګرځې سنګرونه پریږدي ، په ظاهرکې دخبرې معنی داوه چې نوردمقاومت امکان نشته اوله سنګرونو نه په شاشي . خپلوکوروتوته وګرځي .

خوهدف یې داؤ چې نورله اسلام نه لاس واخلي خپل پلرني اوآبایي دین ته وګرځي ترڅوددې شراوخطرنه وژغورل شي . هدف یې دا و چې دښمن ته تسلیم شي . له هغه سره سازش وکړي . ددې سازش په نتیجه کې به ددې سترخطرنه وژغورل کیږي . " لامقام لکم فارجعوا" دمنافقینو خبرې همیشه همدغسې دوه اړخه لري . که به هغوي حالات داسې لیدل چې داخپل منافقت پټ وساتي نودخبرې تعبیریه یې داسې کولو چې زموږ مقصدداوي چې دمقاومت امکان نشته محاصره طولاني شوه اودمدینې منورې یهودانوهم ددښمنانوسره لاس یوکړ، ویلې مودې چې سنګرونه پریږدي په مدینه کې خپلو کوروتوته وګرځي . خوچې څوك به دهغوي دخبروترتأثیرلاندې راغلل پوهیدل به چې دلته دهغوي خبره اثرکولاي شي اویاك تلري چې خپل حقیقت بربنډ اوڅرګند کړي نوویل به یې چې پس له دې له اسلام نه څه نه جوړیږي له دې کشمکش نه لاس اخیستل په کاردي . نوره باید دامبارزه همدلته ختمه شي اودکوم دین په خاطر چې داکشمکش اوفتنه دلته شروع شوي . ددې نه لاس واخلي اوخپل پلرني اوآبایي دین ته بیرته وګرځي " فارجعوا ویستئذن فریق منهم النبي یقولون ان بیوتناعورة وماهي بعورة ان یریدون الافرارا " اوبیا فرقې ددوي له پیامبر نه ددې خبرې اجازه غوښته چې بیرته وګرځي خپلو کوروتوته اوویل به یې اوداپهانه به یې وړاندې کوله چې زموږکورونه محفوظ ندي خطروته متوجه دي .

داحزابو دجنګ په دوران کې مسلمانانو خپل ماشومان اوښځې دمدینې منورې هغه طرف ته ځاي پرځاي کړل چې دیهودوهغه قبیله چې له مسلمانانو سره یې معاهده درلوده هلته میشته وو . پدې امیدچې هغوي به غدراوخیانت نه کوي اوددوي ماشومان به هلته خوندي اومصئون وي. خوچې کله داآوازه خوره شوه چې بني قریضه له دښمن سره دمتحدینو دپوځ سره لاس یوکړي نوهغوي . منافقین به راتلل اوپیامبر علیه السلام ته به یې ویل چې اوس موږته اجازت راکړه کورونه موخوندي ندي . هغوي ته خطرمتوجه دي، پدې خاطر موږپریږدي چې موږ ولاړشواودخپلو کورونو بندوبست وکړو" وماهي بعورة" حال داچې هغه ناامصئون نه وو . هغوي نه غوښتلومګر فرار، هغوي دفرارپه خاطرداپهانې وړاندې کولې ، اصلي مقصدیې تیښته وه اودښمن ته دسنګرونوپریښودل ، خوددې له پاره یې بهانه جوړې کړله . دابهانه یې وړاندې کوله چې زموږ کورونه ناامصئون دي . ګوري چې الله جل وعلي شانه دغسې بهانې ته منې . ددین په معیارونوکې دا بهانې هیڅ ارزش نلري . الله جل وعلي شانه فرمایي چې دهغوي کورونو ته څه خاص خطرمتوجه نه و که خطرمتوجه و اصلي پوځ ته متوجه و دښمن چې ترڅو داصلي جنګنده قوت چاره نه وي کړي دهغه ماشومانو اوښځوته صدمه نه رسوي .

پدې خاطر الله جل وعلي شانه فرمایي چې دهغوي کورونه نامحفوظ اوناامصئون نه وو، اصلا هغوي غوښتل چې قراراوتیښته وکړي . دتیښتې په نسبت هغوي دابهانې کولې " ولودخلت علیهم من اقطارهاثم سئلوا الفتنة لاتوهاوماتلبثوابهاالایسیرا " که چیرته دمدینې له نواحیو نه ددښمن پوځونه په دوي راداخل شوي . وای اوله همدغومنافقینو نه چې له جنګ نه یې وړه کوله اوبهانې یې وړاندې کولې ، له دوي نه یې غوښتلي وای چې فتنې ته راداخل شي ، دمسلمانانو پرخلاف جنګ کې برخه واخلي یادین پریږدي اودشرك اودکفر طرف ته راوګرځي . نوهغوي به په دې کې ځنډاوتأخیر نه و کړي . له ځنډ اوتأخیر پرته به یې دابلنه اودعوت منلي و که کفاروهغوي ته دمسلمانانوپه خلاف دجنګ کولو بلنه ورکړي واي اوپه دې جنګ کې به یې دبرخې اخیستلو لپاره هغوي رابللي واي . هغوي به دځنډاوتاخیرنه پرته پدې جنګ کې برخه اخیستې واي، خودلته دالله دکلمې دلوړولو له پاره دحق په خاطر دباطل په خلاف جنګ کې ګوري چې دبرخې اخیستلوله پاره بیاتیارندي اوله هغې نه دډوي کولو له پاره بهانې اوفرصت لټوي. پیامبر علیه السلام ته راځي اودابهانې وړاندې کوي چې زموږکورونه مصئون ندي . موږعملا ددې ننداره ګورو. همغه چې دکفر دکلمې لاندې ، دپردیو پوځونوپه څنګ کې داسلام اودخپل ولس په خلاف جنګیدلو ته ښه تیاردي . خوچې دې طرف ته دالله دکلمې دلوړولولپاره دحق په خاطر دظلم دختمې له پاره دعدل دتأمین له پاره داسلامي نظام داقامې له پاره هغوي څوك جهاد ته رابللي دیته یې ملامانه ده . پدې کې بهانې لټوي . الله جل وعلي شانه همدغسې فرمایي که چیرته داکفري پوځونه مدینې منورې ته داخل شوي واي اوله دغومنافقینو نه یې غوښتې واي چې دمسلمانانو پرخلاف په دې فتنې اوجنګ کې برخه واخلي نوهغوي به خامخا دې فتنې ته داخل شوي وو اودابلنه به یې منلې وه اوپه دې کې به یې ځنډاوتاخیرنه و کړي . په آسانۍ سره به یې دې دعوت ته لبیك ویلي و .

" ولقدکانواعاهدوا الله من قبل لایولون الادبار وکان عهد الله مسئولا "

اویقینا چې دوي له الله سره ددې نه دمخه ددې خبرې عهدکړي و چې دښمن ته به شانه کوي اوقراریه نه کوي . داحد دجنګ نه پس چې کله دمنافقینو دری سوه کسان دعبدالله بن ابي بن سلول ترمشرۍ لاندې پیامبر علیه السلام په احدکې یواځې پریښود اومدینې منورې ته راوګرځیدل اوپه هغسې خطرناك حالت کې یې ددښمن پرخلاف پیامبر علیه السلام یواځې پریښود چې یې ولیدل دښمن ماتې وخوړه څه نتیجه یې ترلاسه نه کړه . مسلمانانومقاومت وکړنوهغوي له الله سره په دې خبرې عهدکړي و چې بیابه داکارنه کوي . بیابه دښمن ته شانه کوي دجنګ نه به وړه نه کوي . الله جل وعلي شانه هغه ته اشاره کوي اوفرمایي چې حال داچې همدغو منافقینو ددې نه دمخه الله سره په دې خبرې باندې عهدکړي و چې دښمن ته به شانه کوي او له الله سره چې څوك په کومه خبره باندې عهد وکړي دهغه به پوښتنه کیږي ، دهغه نه به تپوس کیږي . چاچې دالله سره په کومه خبره باندې عهدکړي ، نودهغې به خامخا تپوس اوپوښتنه کیږي اوالله به دغسې حالات راپیداکوي چې دهغه په دوران کې دده ددې عهد حقیقت معلوم شي چې هغه په خپل دې عهدباندې وفاکوي، په خپلو وعده باندې ریښتیني اوصادق دي اوکه درواغجن .

" قل لن ینفعکم الفراران فررتم من الموت اوالقتل واذالاتمتعون الاقلیلا "

ورته ووایه چې تاسوته له مرګ اووژلو اوقتل نه فرارڅه ګټه نه رسوي . که وغواړي چې له مرګ نه ځان وژغوري اویادمرګ دویرې نه سنګرونه پریږدي اودښمن ته شاکړي اوفراروکړي له مرګ نه فرارتاسوته کومه ګټه نه رسوي اوله قتل نه هم ځان نشي ژغورلاي . دمرګ اودقتل لپاره چې الله کومه نیټه ټاکلې په خپل وخت به راځي . ستاسو تدبیرفراراوبزدلي ، چین ددې نیټه نشي بدلولاي .

قل لن ینفعکم الفراران فررتم من الموت اوالقتل "

که دمرګ اوقتل نه وتښتئ نودانیسته تاسوته ګټه نشي رسولاي .

" واذالاتمتعون الاقلیلا" اوکه فرضا ستاسو دتخمین اوګومان سره سم دفرار اوتیښتې په باب ګومان وکړي چې دمرګ اوقتل نه ژغورل شوي یاست نوبهره مند به نشي ، برخه منتبه نشي مګردډیري لنډې مودې له پاره . دتل له پاره ژوندي نشي پاتې کیدای . مرګ به خامخا راځي

که ستاسوددې غلطې عقیدې سره سم فرضا ستاسو قراردمرګ اوقتل نه په دې منتج شوچې دڅو ورځو له پاره . نورهم ژوند وکړي داویرې محدودې شپې ورځې دي . تاسو له دې نه بهره من کیږي نه . مګردلنډې مودې له پاره اویاستاسو په هکله کومه پیرزوینه وغواړو خپل رحمت ستاسو په حال شامل کړو.

فتحه اوغلبه دریه برخه کړو. داڅوك دي چې دتاسو اودفتحې ترمنځ مانع شي ! څنګواقع شي داڅوك دي ! یعنې که تاسوقراروکړې . په خپل کورکې وي، له جهادنه لاس واخلي ، دښمن ته شاکړي ، سنګرونه پریږدي اوالله تاسوته دکوم ضرراراده کړې وي ، نوآیاستاسوداتدبیر، داچین بې غیرتي اوبزدلي اودښمن ته شاکول دجنګ نه فرارتاسوداالله له فیصلې نه بچ ساتلي شي . له الله نه موخوندي ساتلي شي اوکه الله وغواړي تاسوته فتحه اوغلبه درکړي خپل رحمت اوپیرزوینه دتاسوپه حال باندې شامله کړي . دښمنان ستاسوپه خلاف راغونډشوي، توطئې کوي، سازشونه کوي، فوځونه یې برابرکړي اوحالت هم همداسې خطرناك اووخیم دي . خوکه ددې سره سره که الله وغواړي تاسوته فتحه درکړي داڅوك دي چې ستاسواودفتحې ترمنځ مانع شي اودهغه مخنیوي وکړي .

" قل من ذاالذي یعصمکم من الله ان ارادبکم سوء اوارادبکم رحمة ولایجدون لهم من دون الله ولیاولانصیرا "

اوله الله نه پرته به ځان ته نه ولي اونصیرپیدانکړي که څوك وغواړي چې له الله نه پرته بل چاته پناه یوسي ترڅو دهغه حمایت اومرسته وکړي په دې دې ډاډه اومطمئن وي چې دالله نه پرته بل ولي اونصیرنشته . وروسته الله جل شانه فرمایي چې یقینا الله ستاسو هغه کسان پیژندلي چې دجهاد په وړاندې خنډکیږي اومانع ګرځي . په خپلو تبلیغاتو سره ، په خپلو مواقفو اوتبصروسره اوپخپل عملي کړو وړوسره دمجاهدینو په وړاندې خنډکیږي . دجهادپه وړاندې خنډواقع کیږي ، معوق دي . دجهادلپاره عایق اودمانع حیثیت لري . " قدیعلم الله المعوقین منکم والقائلین لاخوانهم هلم الینا ولایاتون الباس الاقلیلا " یقینا الله جل وعلي شانه ستاسو معوقین پیژندلي اوهغه کسان چې خپلو ورونو ته وایي چې راشي زموږپه شان شي . زموږ په څواکې ودریږي اوجنګ کې برخه مه اخلي ، څه چې موږ کوو تاسوهم همغه وکړي "هلم الینا" زموږطرف ته راشي " ولایاتون الباس الاقلیلا " اوعملا هغوي په جنګ کې برخه نه اخلي مګرډیر کم . دامعاوقین اوددې خبرې تبلیغ کوونکي الله جل وعلي شانه پیژني چې خپلو ورونو اودخپل ځان په شان خلکوته وایي چې راځي زموږ په څنګ کې ودریږئ . زموږوضعه اختیارکړي اوددې عملا په جنګ کې برخه نه اخلي مګر ډیره کمه . خوپه تاسوباندې بخیل دي ، کومه ښیګڼه فتحه اوغلبه یې پرتاسوباندې نه پیرزوکیږي . نه غواړي چې تاسي کومه فتحه ترلاسه کړي ، ښیك نوم مویه برخه شي . دښمن ته ماتې ورکړي ، کوم خیرستاسو په حال شامل شي . دحسداوحقد اودکینې په وجه ستاسو په نسبت سخت بخیل دي اوپه تاسو باندې یې هیڅ ښیګڼه نه پیرزوکیږي . خوچې کله دخوف حالت راځي .

بیایې وضعه داسې وي دویرې اودخوف په وجه لکه چې په چاباندې دمرګ شیبه راغلې وي ، دمرګ له مشقت سره مخامخ وي . سترګې یې ځرځیږي .

" اشحة علیکم فاذاجاء الخوف رأیتهم ینظرون الیك تدوراعینهم کالذي یغشي علیه من الموت"

لکه هغه څوك چې دمرګ دشدت په وجه دمرګ دمشقت په وجه په هغه باندې بې هوشي راغلې وي . خپل کنترول یې له لاسه ورکړي وي ، حواس یې له لاسه ورکړي وي اودخپلو سترګو کنترول یې هم له لاسه ورکړي وي . سترګې یې ځرځیږي ، چې دخوف کوم حالت راشي دوي دغسې پریشان اومضطرب اوناامید اومایوس وي خوچې دخوف حالت ختم شي . بیانوپرخپلوتندواوتیزو ژبوسره په تاسو ګوزارونه کوي تاسوسره برخوردکوي، ستاسو په خلاف تبلیغات کوي اوپه خپلو تندو ، تیزو اواوسپنو په شان ژبو، دقیچې په شان ژبو باندې له تاسوسره برخوردکوي . دخوف په حالت کې داسې ویرې اخستي وي اومضطرب اوپریشانه وي . خوداطمینان په وخت کې چې غنیمتونه دمجاهدینو په برخه شوي اودفتحې اودغلبې حالت وي . بیا هلته نودخپلو تندو اوتیزو ژبو سره په تاسو باندې ګوزارونه کوي تاسوسره برخورد کوي اومخامخ کیږي . الله جل وعلي شانه فرمایي چې داهغه ډله ده چې ایمان یې ندی راوړي اوالله به دهغوي عملونه حبطه کړي اودابه خداي باندې ډیرآسانه دي ، دهغوي تدبیرونه مکراوسازشونه به ټول الله شنډکړي اوداکارالله ته ډیرسهل اوآسانه دي . دهغوي تدبیرونه توطئې شنډول ، دهغوي عملونه حبطه کول بې نتیجې پریښودل ، داالله ته سهل اوآسانه دي .

ورونو ! ددغومبارکوآیتونو په رڼاکې یومسلمان خپل موقف اودریځ ډیرښه پیژندلي شي . نورپریشان وي اوویرې اخیستي وي، نه چې په خداي ایمان لري ، ستاوضعه باید څنګه وي ! ته باید ډاډه اومطمئن وي . که نورسازشونه کوي، ته باید باوروري چې هرڅومره مشکلات زیاتیږي ،همدومره دوروستی فتحې ورځ را نږدې کیږي . هرڅومره چې داسلام په خلاف سازشونه تشدید کیږي ، همدومره به دالله نصرت رانږدې اوقوي کیږي . که ته په الله باورلري اودهغه وعدې ریښتیني ګڼې اوپړدې دې یقین دې چې الله قوي ، عزیز اوغالب دې ، هغه په هرکارقدیراوتوانا دې اودځمکې اودآسمانونو جنود دهغه سره دي . هغه به ددښمنانو مکر شنډوي نوباید ته ډاډه اومطمئن وې اودخپلې فتحې په نسبت شکمن نه شې

ورونو ! موږله خداي سره عهد کړي چې خپل جهادته به ادامه ورکوو، ترڅودپردیوپه لاس قدرت ته رسیدلي مزدور رژیم نسکور کړو اودهغه په ځاي الهــــــي او اسلامي حکومت قائم کړو دالله کلمه اوچته کړو اوداالله دین په ځمکه باندې قائم کړو موږبه ترهغه ورځې پورې جهادته ادامه ورکوواوددې ټولو غلوځلو په مقابل کې زموږموقف هماغسې نه بدلیدونکی دي . جهادبه ادامه کوي ترهغه چې دکابل رژیم نسکورشي اودهغه په ځاي یوواقعي اسلامي حکومت دمجاهدینو په لاس قائم شي .

داهدف دجهادنه پرته له بلې لارې نه نشي ترلاسه کیداي . دجهاد داوامې په نتیجه کې به ان شاء الله دامقدس هدف ترسره کیږي اواوس ددې هدف دترسره کیدوشیبې ورځې ډیرې رانږدې شوې . انشاء الله دکابل رژیم به په هرصورت کې ختمیږي اودهغه ځاي به دمجاهدینو دخوښې یواسلامي حکومت نیسي .

اقول قولي هذا استغفرالله لي ولکم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

قذافي به ایتالیاوهسپانیااخطارداد

طرابلس – ٦ اسد :

روزجمعه آژانس خبرګزاري لیبیا طي ګزارشي ګفت معمرالقذافي اخطارنمودکه اګرلیبیا ازپایګاه هاي امریکایي واقع در دوکشوراروپایي هسپانیا وایتالیا موردحملات تروریستي قرارګیرد به عمل متقابل دست خواهد زد .

قذافي درسخنراني روزپنجشنبه اش که یکروز بعد توسط خبرګزاري آنکشور ګزارش داده شد اظهارنمودکه ، این دوکشورنامبرده را درصورتیکه به حمله علیه لیبیا دست بزنند مورد حمله قرارخواهیم داد اګرمردم این کشورها پایګاه هاي امریکایي درکشورهاي شان را که بخاطرحمله علیه اعراب مورداستفاده قرارمیګیرند مسدود بسازند درصلح وامنیت زندګي خواهند کرد وي بادرنظرداشت حملات هوایي امریکا به لیبیا چنین ګفت امریکا درصدد بدست آوردن بهانه یې براي حمله به لیبیا ، عراق وکشورهاي عربي است مامیدانیم که چنین حملاتي راباز هم تکرارخواهد کرد اګرچه بهانه یې بدست نیاورده وي اخطار اخیر اعضاي دایمي شوراي امنیت علیه عراق را که ازبغداد انشاي همه وسایل ، تجهیزات وتاسیسات اتمي آن را تقاضامي کند مورد انتقاد قرارداده افزود اسرائیل نیزبایدموردهمچوتهدیدات مثل عراق قرارګیرد اما برخلاف اسرائیل به توسعه وانکشاف تاسیسات اتمي خود ادامه میدهند ودرصدد ساختن بم اتم است . شوراي امنیت آله دست امریکا ست وي دراخیر علاوه نمود اعراب باید با زورازاسرائیل سلاح بګیرند واین کارمربوط به اتحاد وهمبستګي اعراب است .

ببرك وبرنامه هاي جدید استعمار

نظرمن ضعیف است هرچند آنرا منتفي نمي دانم .

مسئله دیګري که باید دراین جریان بدان توجه داشت آنست که روس ها ګمان برده اندکه دوربودن ببرك براي بیش ازپنج سال ازصحنه سیاست سابقه پلیداورا از اذهان مردم زدوده است واکنون مردم بیشترازوي درمقابل نجیب حساس میباشند وشاید بګذارند حزبي که توسط اورهبري شود درانتخابات آینده افغانستان سهیم ګردد درحالیکه اینبارنیز مانند ګذشته کورخوانده اند زیرامردم افغانستان میدانند که ببرك مزدورازجمله عاملین اصلي تباهي وبربادي کشوروقتل صدها هزارنفرازمردم مسلمان میباشد .

اماآکنون باید دید ببرك درکابل چه سرنوشتي خواهد داشت ؟ قراراطلاعات رسیده ازکابل عده یي ازکمونست هاي قراري طرفدارببرك دراین اواخراز هندوستان وسائر کشورها بکابل بازګشته اند یعني روس ها عملاً بکارآغازکرده اند تازمینه رابراي ظهورمجدد ببرك آماده سازند ودراین میان نمي توان فهمید که چه مراحلي رابراي اینکاردرنظرګرفته اند اګرتصب ببرك به مقام رهبري حزب کمونست کابل وبه اصطلاح ریاست جمهوري پیش ازانتخابات آزادکه استعمارګران جهت حل سیاسي بحران افغانستان آنرا درنظردارند صورت بګیرد " که من طوریکه قبلاً ګفتم این احتمال ضعیف است " مشکلات زیادي براي روس ها ومزدوران ایشان ایجادخواهد شد زیرا درآنصورت مجبورخواهندبود یانجیب رابه قتل برسانند ویاتبعیدکنند که این مایه دردسرخواهد بوداما اګرریاست حزب بعدازانتخابات ویالااقل بعدازکناره ګیري باند دیموکراتیك خلق ازقدرت به ببرك داده شود درآنصورت نیزخلقي هابه رهبري اوقناعت نخواهند ګردودنبال کارخودراخواهندګرفت واګرنجیب زنده باشد شاید عده یې هم دوراوجمع شوند .

امااامیدواریم قبل ازآنکه روس ها وسائر استعمارګران بتوانند برنامه هاي شیطاني خودرا درعمل پیاده کنند حملات کوبنده مجاهدین که هر روزبیش ازپیش کسب شدت مي نماید آخرین لانه هاي مزدوران روس را ازمیان برداشته ، ببرك ، نجیب وسایر جنایتکاران رابه جزاي اعمال شان رسانیده وحکومت اسلامي رادرکشور استقرار دهد وان شاء الله که چنین خواهد بود واز همنجاست که دراین اواخر روس وامریکا بیش ازهروقت دیګرتحت عنوان حل سیاسي درتلاش اند که منافع پلیدخویش را درکشورمابه هرنحوممکن حفظ نمایند .

شهادت
بیانگر عقاید و آرمان های حزب اسلامي افغانستان
مسئول : انجنیر حکمتیار
صاحب امتیاز : حزب اسلامي افغانستان
ناشر : ریاست ارشاد و فرهنگ
سال تاسیس : ۱۳۵۲ هجري شمسي
تحت نظر هیئت تحریر
تلفون : ٦٣٧٨٩ - ٤٠٢٢٤ پشاور
پوست بکس (١٤٦٥) یونیورستي تاون - پشاور

با اشتراك علماي مجاهدافغانستان محفل بزرگ وشكوهمندي انعقاديافت

گزارش گران : محمدمعروف "بخشي" وعبدالهادي "نیازي" :

توطیه هاي دشمنان اسلام بیانیه مبسوطي ایراد نمودند که مورد استقبال حضار قرارگرفت . برادر حکمتیار درقسمتي از بیانیه شان گفتند.

ان شاءالله تاریخ پرافتخار آینده افغانستان نام آنعده از علما را در صفحات خود به خط زرین ثبت خواهد کرد که این جهاد بزرگ وتاریخي به رهنمایي آنها آغاز گردیده و تا امروز ادامه دارد. همین علماء بودند که ملت را درخم وپیچ مشکلات جهاد ومبارزه به صبرواستقامت دعوت نمودند.

برادرحکمتیار راجع به وضع جهاد چنین اظهار نظرنمودند: حالا مرحله تعین سرنوشت جهاد است . جهاد درمراحل آخر پیروزي قرار دارد . واین حقیقت مسلم است که رژیم ملحد کابل چانس بقا ندارد فتوحات اخیر درسنگر ها ثابت نمود که رژیم نمیتواند دربرابر مجاهدین مقاومت کند مجاهدین براي وارد آوردن ضربه آخري آمادگي میگیرند وان شاءالله عملیات بعدي قاطع و فیصله کن خواهد بود که درنتیجه آن رژیم ملحد نجیب سرنگون خواهدشد.

برادر حکمتیار افزودوند: حقیقت این است که وضعیت رژیم به اندازه پریشان است که امکانات بقاي آن بکلي ختم شده وحالا درمقابل مجاهدین از ملیشه هاي کرایي استفاده میکند وعملیات رابه اجاره میدهد.

برادرحکمتیار در ادامه سخنان خود درمورد طرح پیشنهادي ملل متحد گفتند:" ملل متحد آله دست قدرت هاي استعماري است .

وموقف ما درموردطرح ان این است که بانجیب مذاکره صورت گرفته نمیتواند . زیرا نجیب قاتل یکنیم ملیون شهدا است .اوباید بدون قید وشرط ازاقتداردست بردارد وجاي آنرا حکومتي بگیرد که براي مجاهدین قابل قبول باشد ودرآن نه رفقاي نجیب سهم داشته باشند ونه حکمرانان وحواریون مفسد رژیم هاي منحط قبلي .

بعدازآن اوبند تامین شود ومتعاقب آن انتخابات دایرگردد . درنتیجه انتخابات شوراي منتخب ومقتدري که اراده ملت راتمثیل مي کند ،تشکیل واز طریق همین شورا حکومت دایمي وثابت آینده تشکیل گردد.

برادرحکمتیار افزودند : اقامه حکومت اسلامي جز از طریق ادامه جهاد از راه دیگري ممکن نیست .

برادرحکمتیار درمورد اتحاد فرمودند : مابه سایرتنظیم ها پیشنهادمیکنیم که بیایید مسئله افغانستان را از طریق براه انداختن یکعملیات مشترك حل وفصل نمائیم ،این ممکن است وتجربه ما اینرا ثابت کرده است وبیائید براي عملیات مشترك یك کمیته مشترك درست کنیم روي پلان مشترك توافق نمائیم وبراي سوق واداره این عملیات اداره مشترك بسازیم .

وبه این تعهد کنیم که وقتي رژیم کابل سرنگون گردید جاي آنرا یك حکومت موقت قابل قبول براي مجاهدین بگیرد. وبعدا انتخابات دایر شود وقدرت به حکومت منتخب انتقال نماید.

مگر متاسفانه قدرت هاي خارجي ما را آرام نمیگذارند. آنها عمال خودرا تشویق میکنند تا مانع همچو توافقات شوند.

وقتیکه برضد رژیم تصمیم عملیات وسیع اتخاذ مي شود مي بینیم که دست هاي ناپاك خارجي به حرکت درمي آیند وبراي مجاهدین فتنه هاي جدیدي را تولید وبدان وسیله ازعملیات وسیع مجاهدین جلو گیري مینمایند.

مابه شما علماي کرام اختیارمیدهیم درزمینه وحدت صفوف با دیگران صحبت کنید مشروط برآنکه عدل وقسط درآن رعایت گردد ودرنتیجه آن یك اداره قوي بوجود آید . به هرطرحي که تنظیم هاي دیگر روي آن توافق نماید ماحاضریم نسبت به آن التزام نمائیم.

برادرحکمتیار علاوه نمودند ما به سایرتنظیم ها اطمینان میدهیم که از طریق سازش ها نمیخواهم به قدرت برسیم ونه بدیگران این موقع را میدهیم و همه باید این خواب وخیال را از ذهن خود دورسازند که میتوانند ازطریق سازش ها بقدرت برسند. حالاوقت آن گذشته است ازطریق سازش بقدرت برسند.

برادرحکمتیار درادامه سخنان شان گفتند : ما در روز نخست که در راه جهاد قدم نهاده ایم باخداي خود تعهد نمودیم که :

به چیزي کمترازحکومت اسلامي راضي نخواهیم شد ،تا وقتیکه حکومت اسلامي راتشکیل نداده ایم سلاح خود را برزمین نمیگذاریم ، به ملت ومردم خود خیانت نمیکنیم

باشهدا ومجاهدین خود خیانت نمي ورزیم ، حکرت هاي تحمیل شده ازخارج را قبول نداریم، مادامیکه حکومت اسلامي قابل قبول براي مردم ما بوجود نیاید بجهاد خود ادامه میدهیم ما باهرسازشي داخلي وخارجي به شدت مقابله میکنیم و به جرأت درمقابل آن مي ایستیم باوجود آنکه تمام دنیا ما راتنها بگذارند وبرضدما متحد شوند.

ما الله (ج) را بخودکافي میدانیم ، باتوکل به او (تعالي) جهاد راآغازکردیم وباتکال به اوتعالي به جهاد خو دادامه میدهیم .

برادرحکمتیار واخیرگفتند : ماصلح واقعي وپایدارمي خواهیم ساباعث ادامه جنگ نیستیم این جنگ ازخارج برما تحمیل شده است این جنگ توسط آنعده حکمرانان به مردم ماتحمیل شده است که کمونست ها را درآغوش خو دتربیه کردند.

سپس برادر مولوي صاحب سعد الدین اخند زاده و طي بحث بي راجع به حرمت تفاهم وسازش باکفار ودهریون مطالبي اظهار داشت ونقش علمارا درجامعه اسلامي مهم تلقي کردند.

بعدازاداي نماز شام مولوي صاحب ثره خیل درباره اتحاد امت مسلمه ومسؤلیت علما بیانیه جامعي ایراد فرمودند ، متعاقب آن برادر حکمتیار به سوالات حضار پاسخ هاي قناعت بخش ارا"ه داشتند.

محفل حوالي ساعت (۹) شب درفضاي وحدت واخوت اسلامي بادعائیه مولوي صاحب بزرگ خاتمه یافت .

ومدعوئین به صرف طعام شب که توسط اداره جماعت علماي اسلام افغانستان ترتیب شده بود ، دعوت گردیدند.

نوت : متن مفصل بیانیه برادر حکمتیار امیرحزب اسلامي دراجتماع علما درشماره آینده به نشرخواهد رسید.

دزرمت په ولسوالي کي (35) کسه کمونستان ووژل شول

پکتیادچنګابش ۲۸ .

دپکتیاولایت سرجندونکو غازیانو دنوموړي ولایت په بیلابیلو برخوکي دکمونست رژیم پراته مرکزونه تربریدلاندي نیولي او ورته یې درانده تاوانونه اړولي دي . په هغه رپوټ کي چي دزرمت ولسوالي نخه ترلاسه شوي ویل کیږي، مجاهدینو دچنګابش په ۲۸ مه نیټه دقلعه نیاز، سرورکوټ ،وقلعه سرکار پرتي پوستي ترخپلو بریدونولاندي ونیوي چي په نتیجه کي دکابل رژیم ټولي پوستي فتح او(۳۰) کسه کمونستان ووژل شول .

همدا راز نوموړونومبالیو دیوه بل برید په دوران کي چي دتیري دکوتل په پوستویي سرته رسولي دکمونست رژیم (۱٦)، کسه مړه اودرانده تاوانونه ورورسیدل.

خبرزیاتوي دکمونست رژیم هوایي قواوو دخپل انتقام په بدله کي دزرمت ولسوالي دکلالګو سیمه ترسختي وحشیانه بمباري لاندي ونیوه ، چي سربیره دخو دوکانونو په ویجاړولو سره (٤) کسه کلیوال خلك ټپیان او(٤) کسه مجاهدین هم شهیدان شول. روح یې دي ښادوي .

بافتح ولسوالي اشكاشم (٦٠٠) تن از رژیم ملحد اسیرواضافه از (۲۷۰۰) میل سلاح مختلف النوع به غنیمت گرفته شد.

بدخشان - افغان نیوز ایجنسي !

به تعقیب نشر خبر فتح ولسوالي اشکاشم اینك طبق وعده ، تعداد اسرا وغنائمي که درین فتح بزرگ بدست مجاهدین مؤمن ودلیرما افتیده است توجه شما را جلب مي نمائیم .

۱- هاوان وسط یك ضرب
۲- هاوان ۱۲۰ ملي متري سه ضرب
۳- بي - كا - تي سه میل
٤- BM21 دودستگاه .
٥- ماشین محاربوي هشت عراده
٦- سه عراده لاري فعال نظامي.
۷- کلاشینکوف ۷۰۰ میل .
۸- کارابین و ۳.۳ بر ۲۰۰۰ میل
۹- مرمي هاي مختلف النوع ٦٠،٠ فیر
۱۰- ٦٠٠ تن ازنظامیان دشمن به اسارت گرفته شده وتعدادي از صاحبمنصبان عالیرتبه حکومت مزدور بطرف روسیه فرارکرده اند.

تاهنوز رقم دقیق هلاك شدگان وزخمي هاي افراد دشمن دردست نیست .

مجاهدین قهرمان ما بالاي تمام ساحات این ولسوالي حاکمیت عام وتام دارند.

همچنان از تعداد شهدا وزخمي هاي مجاهدین نیز معلومات داده نشده است .

دګورباچوف مشاورله خپلي دندي نه استعفا وکړه

مسکو دزمري ٦ نیټه .

د پروسترویکا دتحریك مؤسس الکساندر یاکولوف چي دګورباچوف سلاکارهم ؤ دخپلي وظیفي نه استعفا کړي ده ، یاکولوف چي دګورباچوف له نژدي ملګرونه ګڼل کیده دشوروي په تلویزیون کي دخپلي استعفا خبره وکړه . دایې ونه ویل چي داکار یې ولي کړي دي ؟

نوموړي دګرباچوف داصلاحي پروګرام دنوي پړاو په هکله چي دکمونیست ګوند دمرکزي کمیټي دتیري اونې په غونډه کي رامنځته شو خپله نارضا یتي ښکاره کړه ، ویې ویل که څه هم د دغه پروګرام په ګوند کي دسوسیال دیموکراسي پالیسي رادسلتي شي مګر بیا هم دایډلوژونه پوره اوکاتي نه دي نوموړي خپل ځان یوازي بوافراطي سوسیال دیموکرات وباله .

دامریکاسنادهندپه ملاتړپریکړه وکړه

واشنګټن ، دامریکا سناد اتومي وسلو دخپراوي دمخنیوي دبحث په مشن کي داماده ردکړه چي دغه قرارداد دي په هند باندي هم عملي کړاي شي.

دخبروتو له مخي ددي پریکړي په اساس باید امریکا هند ته دپخوا په شان مرسته ورکړي له بلي خوا پاکستان غواړي چي له دوي سره دي اشیازي چلند له منځه یوړل شي اودمرستي دشرط تعدیل دي په هند باندي هم تطبیق کړي شي .

دامریکا کانګریس تردي رومبي په یوه پریکړه کي دغه تعدیل پرهند باندي دتطبیق دپلوي ؤ . سیاسي مبصرین عقیده لري که څرخنا دواړو شوراګانو دغه تعدیل منظورکړي هم واي نو بوش به ویټو کړي وځکه دامریکا دبهرنیو چارو وزیر ددي تعدیل مخالف وو.

یك فروند هلیکوپتر هندي سقوط وچار افسر به هلاکت رسید

دهلي جدید - ٥ اسد :

روزنامه مسلم به نقل ازگزارش پرس تروست آف اندیا مینگارد بعدازحملات مجاهدین کشمیري بالاي عساکرهندي درکشمیر اشغالي یازده نفرازاردوي اشغالگرهلاك گردید .

وایوروپافرایدعساکرهند بخاطرکمك بالبروهاي شبه نظامي ازسربازخانه ها خارج شدند وهدف آتش مجاهدین کشمیري قرارگرفتند همچنان درحین تبادله آتش در دال کیت واقع سرینګرسه نفرکشته ویازده نفرجراحت برداشتند .

طبق یك خبردیگر یك فروند هلیکوپتر هندي درنزدیکي شهرلوهم پور سقوط نموده وچهار افسرهندي بهلاکت رسیدند علت سقوط طیاره معلوم نبوده وتحقیقات درمورد جریان دارد .

یك کاروان نظامي رژیم مزدوردرسفیدخاك میدان تحت ضربات کوبنده مجاهدین قرارگرفت

میدان شهر- افغان نیوزایجنسي !

طبق گذارش قرارگاه جندالله از پغمان مجاهدین بیدار ومؤمن ما به تاریخ ۲۷ سرطان ۱۳۷۰ طي عملیات برق آسا ویبروزمند درمنطقه سفید خاك میدان بالاي یك کاروان نظامي ملیشه هاي رژیم مزدورکابل حمله ورگردیدند که درنتیجه ٦ تن ازگلم جم ها جنایتکارهلاك و دوتن آنها زخمي گردیدند .

متباقي افراد دشمن پابه فرارگذاشتند.

اسرائیلي عسکرویوتن فلسطیني شهیداو(٦) نوریي ټپیان کړل

دزمري ٦ نیټه

عربي منابع وايي اسرائیلو عسکرو داشغال شوي اردیڅي غاړي دنلکان ښارته نږدي سیمه کي پوفلسطیني وژلي اوبل یې ټپي کړي دي په یوه رپوټ کي راغلي چي څواسرائیلي عسکر وناڅاپه وژلي پیل کړي څو بل رپوټ بیاوایي چي په اوله کي پر یوي عسکري چوکي ډزي وشوي ورپسي نښته پیل شوه. په بل خبرکي راغلي چي دغزي په ترانګه کي څوتنه چي مخونه یې پټ کړي و یوفلسطیني چي د اسرائیلي مقاماتو سره په همکاري تورن و وویشت او ویي وژلو . همدارنګه اسرائیلي عسکرو دجمعي په ماښام دغزي په ښار کي دمظاهره چیانو سره په نښتوکي چي دشیخ رضوان په کلي کي وشوه پنځه تنه فلسطینیان ټپي کړل.

قابل توجه

نسبت تذکرلفظ آیه هاي قرآني درتکریم ونگهداشت این شماره اهتمام نمائید

نبوي ارشاد

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي .

چاچي له یوه امام سره بیعت وکړ او دزړه له کومي یې خپل لاس دهغه په لاس کي ورکړ ،نوباید دخپل توان په اندازه دهغه اطاعت وکړي. اوبیا چي بل امام راشي اودړومبي امام سره اختلاف وکړي نوددویم امام غاړه پري کړي یعني ویې وژني ، مسلم

نوي نړیوال نظام په اسلامي کانفرانس کي زموږدریځ زیاتمنولي شي ؟

کي دنړیوال کفردوېري اودلچسپي دحیرتي وړتکي ګرځېدلي . اوهمدالامل دي ،چي په اسلامي نړۍ کي هرتړون اوحرکت په جدي ډول تعقیبوي . دالجزایراوچین ترمنځ په تکنالوژیکي مرستوتنقید،پرلیبیا الزام اوایران ته داتومي ځواك دجوړېدلوپه خخواخطاوروکول دهندي لړۍ کړۍ ښکاري . پرپاکستان دمرستو بندېزاوبیاددي اسلامي هیوادپرپولو دهندي عکسرو ګڼه ګوڼه دهمدي نړیوال کفري سازش تښي تښاني ښکاري، چي په یوه نه یوه بهانه یکي اسلامي هیوادونه رانغاړي، اوتهدیدوي یې . داووسشروصنعتي هیوادونو په کلني غونډه کي موبولېدل، چي لویدیځ له ختیځ سره څنګه خپله اوږده تربګني ختمه کړه اودخپل هراړخیزکومك لاس یې وورکړ . ځکه چي دختیځ اولویدیځ تضاد اودبښتي پرخلاګېدونکي وه ، اوپه لږ شانته تګ سره وروښه شول، څوکله چي اسلام اومسلمانان مطرح کیږي ، نوځلته بیاځېره ښکښي سرچپه کیږي، اودختیځ ولویدیځ دواړه کفره ورته په یوه مورچل کي ځاي نیسي .

مور وینو، چي پرون همدي امریکا افغاني مجاهدینوته دختیځ دلاڅانو لقب ورکاوه، خوټن یې دهیرویټوپه قاچاق تورنوي، اوډول ډول تورونه پري لګوي. همداډول دنجیب دګوداګي رژیم پراستقرار دروس په نسبت دامریکا اصرارونبزیات دي ، اوېدي پسي ده ، چي په هرصورت باید داځاي اسلامي حکومت ونه نیسي .

پرګاونډیو هیوادونو پاکستان اوایران دامریکا پرله پسي فشاردي ماناليري ، چي مجاهدین له دي لاري نه دالفاتانو له قاتل (نجیب) سره خبروته کینوي، او په آخري قدم یې په ګډ حکومت جوړولو مجبورکړي . دملګرومللتونو له خوادسیاسي حل په نامه توطیه په عیني ډول دنجیب دګوداګي رژیم دمشروعیت اوقانونیت لپاره ډیپلوماتیکي هڅي دي . څوټړیالوته وښیي ، چي لاسپوڅي نجیب ددیارلس کلن مقاومت سره سره دملګروملتونو دنړیوالي اداري هر وړاندیز مني، خودا ښمادپالي مجاهدین دي، چي پرجنګ اوږیني توپولو ټینګارکوي . حال داچي خبره داسي نه ده ، دنجیب ګوداګي رژیم یې خرته امریکایي اوروسي هراړخیزومرستوواټینګ کړي، اوداعتماد خربې داحالت دي ،چي په یوځ کي دافتراق له وېري خپله دفاع دکرایي په ملیشووکوي ، خوپه مقابل کي مجاهدین تش لاس اوهرډول مرستي پري ولاړي دي ، اوس چي داسلامي هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانو کالني غونډه داسلامي کانفرانس په نامه په راتلونکو ورځوکي پیلیدونکي ده ، نرلویدیځ خبري آژانسونه اټکل کوي، چي له دي لاري به پرمجاهدینو فشارراوړل شي، اوپخپل پیغام کي به ورته څرګنده کړي ، چي باید خامخاله ګوډاګي نجیب سره له کومي لاري خپل مشکلات حل کړي . که څه هم موږلویدیځ سلهچي دګردنړیوال کفرمطبوعات اوخبري آژانسو ته اسلام دبنجته اوبیوطرفه ګڼو، اودهغوي هرخبرته دنفاق اوشك په سترګه ګورو خومجاهدینو په توګه داپخپلو اصولو اواهدافو کي ځاي ګرل نه غواړو، چي په حتمي ډول دي اسلامي کانفرانس زموږلپاره مبارزه وکړي . دااستاځي دداسي حکومتونو نمایندګي کوي، چي له اسلام سره یې هیڅ اړخ نه لګیږي . اوبیا چي دیوش نوي نړیوال نظام لاپري خپل شیطاني ورزسبوري کړي هم دي، نوداسلامي هیوادونو له ارتجاعي حکومتونوته هرډول هیله لرل دتعهداومسئولیت دخامي معنالري، شك نشته ، چي نوي نړیوال کفري نظام به زموږجهاد پسي داسلامي هیوادونو کلني غونډي ته لاس وروغځوي ، ځکه دخبري مشابهوپه ویناامکان لري، داغونډه په ترکیه کي جوړه شي، اوترکیه هغه هیوادي، چي پرځوته یې له امریکایي عسکروسره اوبه په اوبه دعراق دملت پرخلاف وجنګېدل ، خوبرعکس بیاهمداهیوادونه دامریکا دجارحیت مخه اسرائیلوته نشي ګرځولي، چي له عراق نه دسخت جنایت مرتکب دي ، اوته داتش دنامه مسلمانان دامریکامخ ته ددي خبري دتش کولو توان لري، نودمجاهدینو داسلامي انقلاب سرخیل اسلامي تحریك هیڅکله هم له دي زاړونه دکهرودغوښتلو په تمه نه دي، زموږدجهاد اتکاپراځي پرخداي (ج) اوملاتړمو دنړۍ مسلمانان دي، اوان شاء الله زموږاسلامي جدوجهد به هیڅکله دنړۍ دسیاسي اوانقلابي نقشي نه تجرید نه شي .

اعلان مفقودي

برادرصبوراحمد ولد فدامحمد مسکونه ولسوالي میربچه کوت ولایت کابل بفعلا باشنده افغان کالوني یوسف آباد که ۲۹ سال عمر دارد، نسبت خلل دماغ از تاریخ ۳۰ سرطان سالجاري مفقود گردیده اگرکسي نامبرده را دیده ویا از آن اطلاع داشته باشد به آدرس ذیل خبرداده ممنون سازد.

افغان کالوني یوسف آباد - خیبرکالوني کوچه نمبر۱ دوکان منیر ویا تماس گرفته شود.

تیلفون نمبر ٦٣٧٨٩ روزنامه شهادت

دسیاسي حل په نامه دهلوخلویوازیني مقصددادي چي دمجاهدینو توجه دجنګ په ځاي خبرواتروته راوګرځي